# له څېړونکو د ملاتړ او علمي څېړنو پالیسي

**مقدمه**

علمي څېړنې د یو هیواد د پیشرفت او توسعې لپاره اساسي رول لري او تر ډېره یاده چاره د علمي نهادونو مسولیت بلل کیږي. د نوموړي کړنې د ترسره کولو لپاره مسلم پوهنتون هم د یو مسول بنسټ په توګه علمي څېړنو ترسره کولو ته ژمنه ده. څرنګه چې علمي څېړنې پرته له مالي ملاتړ څخه ستونزمنې دي، په همدې پار مسلم پوهنتون  د څېړونکو د غوري ستاینې او ملاتړ په موخه یاده پالیسي ترتیب او اجرا کوي. همدا راز د مسلم پوهنتو ټول استادان مکلف ګڼل کیږي تر څو دعلمي څېړنو برخې ته لازمه توجه وکړي.

**موخې:**

- ✓ په علمي څېړنه، تالیف او ژباړه کې د استادانو وړتیاوو ته وده ورکول
- ✓ په هیواد کې د علمي څېړنې د تشې او نیمګړتیاوو ډکول
- ✓ استادانو ته د علمي څېړنو زمینه برابرول
- ✓ د علمي ـ تحقیقي آثارو او څېړنیزو مقالو خپرول
- ✓ د څېړنې له لارې د ټولنې علمي او فرهنګي اړتیاوو ته رسیدګي کول
- ✓ د څېړنو له مخې د استادانو د پوهې کچه لوړول

**د تحقیق ساحې**

مسلم پوهنتون  د علمي برنامو د محتوا سره سم په طبي، اقتصادي، حقوقي، شرعي علومو، سیاسي او نړیوالو اړیکو موضوعاتو کې علمي تحقیقات ترسره کوي او یاد تحقیقات باید د ټولنې د ستونزو د حل او یا تشې ډکولو کې لازمه مرسته وکړي.

**د موضوع ماهیت:**

د هرې علمي څېړنې د سرته رسولو لپاره لومړی ګام د موضوع ټاکل دي چې باید ډېر دقت پکښې وشي. موضوع غوره ده چې خپله څېړونکي د خپل مسلک او تخصص په پام کې نیول سره د لاندي شرایطو په نظرو کې نیول سره انتخاب او څېړنه ترسره کوي.

- ✓ د څېړنې موضوع باید علمي او علمي کاربرد تر څنګ له زمان سره همغږي ولري
- ✓ د موضوع په انتخاب کې باید د ټولنې دیني، فرهنګي، تاریخي او کلتوري ارزښتونو ته پوره پاملرنه وشي.
- ✓ د ټولنې د ستونزو او غوښتنو پر بنسټ د موضوع انتخاب ترسره شي
- ✓ موضوع باید د څېړنې وړ او امکاناتو ته په کتو انتخاب شي.

**موضوع ثبت:**

هر کله چې څېړونکی وغواړي له مسلم پوهنتون سره علمي تحقیق ترسره کړي د موضوع د ثبت په موخه د لاندې مراحلو په طی کولو د څېړنې تر شروع مخکې مکلف دی او وروسته د دې پالیسي د حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن کیدای شي.

1. د موضوع ټاکلو په تړاو اړوند دیپارټمنت سره مشوره او دیپارټمنت له لوري د موضوع تائید.

2.ټاکل شوي موضوع د پوهنځي څېړنو کمېټې له لوري تائید او ثبت کیږي چې لاندې موارد پکې شامل دي.

- ✓ د څېړنې موضوع.
- ✓ څېړونکي.
- ✓ د څېړنې پروپوزل.
- ✓ د بهرنیو همکارانو درلودلو په صورت کې د هغوي معرفي.

3. د پوهنتون علمي تحقیقاتو کمېټې له لوري د موضوع او پروپوزل تائید.

4. د پوهنتون علمي تحقیقاتو او مجلو معاونیت له لوري د موضوع تائید او ثبت.

5. د لوړو زده کړو وزارت اړوند د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست تائید اخېستل

6.کچیرته د موضوع اړوند په هره برخه کې تغییرات رامنځته کیږي د څېړنو معاونیت موافقه باید ترلاسه کړي.

**لومړی یادونه:** کچیرته څیړنه د پوهنتون د ملي او یا نړیوالې مجلې لپاره ترسره کیږي اړینه ده چې موضوع د دیپارټمنت تر تائیدي وروسته د څېړنو معاونیت د تائید په موخه ولیږل شي او د پوهنتون د مجلو د رهنمودونو په نظر کې نیولو سره ترتیب او بشپړه شي.

### د څېړنې اصول او اکاډمیک تخلفات

اخلاقي او حقوقي قواعد د انساني ټولني په ټولو چارو کې شتون لري، چې یو له هغو څخه علمي څېړنې دي. په علمي څېړنه کې له اخلاقي او حقوقي اصولو څخه په لاندې ډول یادونه کوو:

**الف: د څېړنې اخلاقي اصول:** د څېړنې په بېلا بېلو مراحلو کې یو شمیر اخلاقي اصول دي چې باید رعایت شي.

1) **د څېړونکی اړوند اخلاقي اصول عبارت دي له:**

- ✓ څېړونکی باید د څېړنې په ټولو پړاوونو کې له تعصب څخه ډډه وکړي، په دې ډول چې د موضوع په ټاکلو کې د ټولني عرف، کړنو او اعتقاداتو ته احترام ولري او په توهین آمیزه ډول ور څخه یادونه ونه کړي.
- ✓ څېړونکی باید شریعې، حقوقي او مسلکي اصولو ته په پام سره انساني عمل وکړي او فردي آزادیو( احساساتو، عواطفو، ارزښتونو، شخصي اطلاعاتو او مذهبي عقایدو) ته درناوی وکړي او راز ساتونکی اوسي.

2) **په څېړنه کې د ګډونوالو او معلوماتو اړوند اخلاقي اصول:**

- ✓ هر کله چې غواړو د څېړنې اړوند معلومات را ټول کړو، معلومات ورکوونکی شخص باید په خپله خوښه او رغبت دې ته آماده اوسې چې د څېړنې اړوند معلومات شریک کړي یعني اجازه یې ترلاسه شي.
- ✓ موجوده حساسیتونو ته باید پوره پاملرنه وشي. ډیر کله ځیني معلومات خلک د ځان شخصي حریم ګني، لکه جنسي رفتار یا ناروغي، جرمي سابقه او ... ، د دا ډول معلوماتو ترلاسه کولو پر مهال باید معلومات ورکوونکی حساسیتونو ته توجه وکړو.
- ✓ د ګډونوالو محرمت باید محفوظ وساتل شي. له موافقي پرته د نورو ګډونوالو معلومات باید شریک نه شي او همدارنګه د ګډونوالو هویت باید پټ وساتل شي.

- ✓ هر کله چې څېړونکی ته اسناد، محرم او غیری محرم معلومات په واک کې ورکړل شي څېړوونکی باید د علمي امانت په توګه خوندي وساتي.
- ✓ د کلام او نقد ادب، عفت او صراحت باید په پام کې ونیول شي.

**ب: د څېړنې حقوقي اصول:**

په هره څېړنه کې باید یو شمیر حقوقي اصولو ته پام وشي. چې په لاندي ډول ورڅخه یادونه کیږي.

- ✓ د څېړنې ټول معنوي او مادي حقوق په پوهنتون/څېړونکي پوري اړوند دي او د څېړونکي له اجازې پرته هیڅوک حق نه لري چې د څېړنې له امتیازاتو څخه ګټه واخلي.
- ✓ د څېړنې د چاپ او تکثیر حق یوازي له پوهنتون/څېړونکي سره خوندي دي.
- ✓ د څېړنې د تغییر او تعدیل حق له پوهنتون/ یا څېړونکی سره خوندي دی.

**ج: اکاډمیک تخلفات:**

د څېړنې په پروسه کې هر هغه څه چې د اکاډمیک نظام او اصولو خلاف سرته رسیږي او په پایله کې یې یاد نظام ته مادي او معنوي اضرار ورسیږي اکاډمیک تخلفات بلل کیږي. چې له یو شمیر څخه یې په لاندي ډول یادونه کوو:

**لومړي:** د واقعیتونو جعل او تحریف باید ترسره نه شي. په دي معني چې د بل چا څېړنې ته د یوې موضوع یا مطلب انتسابول پرته له دې چې یاده موضوع یا مطلب په نوموړي څېړنه کې شتون ولري.

**دوهم:** علمي او ادبي غلا(Plagiarism) چې د اکاډمیکو تخلفاتو تر ټولو رایج شکل ده چې د نورو خلکو نظریات او افکار پرته د اصلي منبع د ذکر څخه له کوم تغییره  پرته کاپی یا نشر شي ویل کیږي. علمي او ادبي غلام په مختلفو لارو ترسره کیږي چې څو ډوله یې په لاندي ډول ذکر کوو:

- ✓ مستقیمه یا تحت اللفظي ادبي غلا( Copy And Paste) چې په حقیقت کې دا ډول غلا له اجازې او ماخذ یادونې پرته کلمه په کلمه د څېړنیز کار بیا ځلي تولید ته ویل کیږي.
- ✓ د عمده او مهمو برخو ادبي غلا؛ چې د یوې څېړنې مهمي برخي لکه، تګلاره، شکلونه او جدولونه له اجازې او نوم یادولو پرته کاپی ته ویل کیږي.
- ✓ د نظریي غلا؛ چې د یو چا ځانګړي نظریات له اجازې او مننې پرته له اصلي منبع څخه کاپی کولو ته ویل کیږي.
- ✓ ځان تقلبي او علمي اجاره کول؛ هر کله چې څېړونکی خپله څېړنه د دوهم ځل لپاره چاپ کړي ځاني تقلب ګڼل کیږي او همدارنګه که چیرته یو څوک چې د څېړنې د ترسره کولو وړتیا ونه لري او د څېړونکی یې پر ځای څېړنه ترسره کړي ځان علمي اجاره ورکولو ته ویل کیږي. دا ځیني نور ټول اکاډمیک تخلفات دي چې ترسره کوونکی قانوني مجازات کیدلی شي.

**د پوهنتون او څېړونکي حقوق او مسؤلیتونه**

1. څېړونکی مکلف دی  چې د څېړنې له شروع څخه مخکې خپل عنوان په اصلي او فرعي کمېټه کې تائید کړي.
2. څېړونکی به ټول اخلاقي، دیني، ملي او فرهنګي اصول مراعت کوي.

3. هغه تحقیقات چې څېړونکی یې د نهاد له ادرسه ترسره کوي ټول مادي او معنوي امتیازات یې په نهاد پورې اړه لري بدون د کتاب څخه.
4. د څېړنې اړوند چارې به د نهاد او لوړو زده کړو وزارت د طرزالعملونو او اصولو سره سم تر سره کوي.
5. څېړونکی د څېړنې پر مهال ټول اړوند (حقوقي، اخلاقي ...) اصول مراعت کوي.
6. څېړونکي مکلف دي هغه تحقیقات هم ترسره کړي چې اړوند نهاد یې لازم ووینې.
7. نهاد مکلف دی د څېړونکي هر ډول مالي حمایت وکړي.
8. نهاد مکلف دی څېړونکی په مادي او معنوي ډول تشویق کړي.
9. نهاد مکلف دی د څېړونکي مقاله په ویبسایټ او نورو صفحو نشر کړي.

## څېړنیز تمویل او مرستې

مسلم پوهنتون د علمي او اکاډمیک نهاد په توګه ژمن دي د ترڅو د خپل علمي کادر غړو او څېړنکو علمي نوښتونو او علمي څېړنو لپاره مالي تمویل او نورې اړینې اسانتیاوې برابرې کړي، مسلم پوهنتون  مالي تمویل او نورې اسانتیاوې په لاندې ډول د اجرا وړ دي:

### ۱. داخلي څېړنیزې مرستې

مسلم پوهنتون د خپل علمي کادر غړو او نورو څېړونکو د څېړنیزو فعالیتونو ملاتړ او مختلفې مرستې چمتو کوي؛ دا مرستې د څېړنې لپاره زمینه سازي کول، د معلوماتو په راټولولو کې د همکاري جلبول، مسلکي مشورې ورکول، د شته امکاناتو او تجهیزاتو څخه کار اخیستنه، د علمي او کاری سفرونو په برخه کې همکاری او د نشر په برخه کې ټاکل شوی مقدار مصارف تر خپل پوښښ لاندې نیسي.

### ۲. د بهرني تمویل ملاتړ

مسلم پوهنتون هڅه کوي ترڅو د څېړنیزو پروژو او فعالیتونو د لا بهبود په پار بهرني تمویل تر لاسه کړي او همدارنګه د بهرني تمویل ترلاسه کولو په موخه خپل علمي کادر غړي او څېړونکي هڅول کېږي د اداري په همغږی بهرنی څېړنیز تمویل ترلاسه کړي، پوهنتون به په اړونده برخه کې لازم اداري او تخنیکي ملاتړ چمتو کوي.

### ۳.: څېړنیزې هڅونې او مالي ملاتړ

**۱.۳: د میداني څېړنې داخلي نشر:** هغه اول لاس او میداني څېړنې چې د هیواد په داخل کې په معتبرو مجلو او یا ژورنالونو کې نشرېږي، په لاندې ډول به مالي ملاتړ ترلاسه کړي:

جدول (۱/۱): د میداني څېړنې داخلي نشر اړوند لګښتونه

| ګڼه | موضوع | مبلغ | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | د څېړنې د اجراء/ترسره کولو اړوند ټول لګښت | 2000 ؋ | |
| ۲ | د څېړنې نشر لپاره حداکثر فیس | 6000 ؋ | څېړونکي ته نه ورکول کیږي |
| ۳ | د څېړونکي امتیاز | 2000 ؋ | |
| د میداني څېړنې داخلي نشر حداکثر جمله لګښت | | 10000 ؋ | |

**۲.۳: د میداني څېړنې خارجي نشر:** هغه اول لاس او میداني څېړنې چې په نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې نشرېږي، په لاندې ډول به مالي ملاتړ ترلاسه کړي:

جدول (۲/۱): د میداني څېړنې بهرني نشر اړوند لګښتونه

| ګڼه | موضوع | مبلغ | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | د څېړنې د اجراء/ترسره کولو اړوند ټول لګښت | 5000 ؋ | |
| ۲ | د څېړنې نشر لپاره حداکثر فیس | 8000 ؋ | څېړونکي ته نه ورکول کیږي |
| ۳ | د څېړونکي امتیاز | 10000 ؋ | |
| د میداني څېړنې بهرني نشر حداکثر جمله لګښت | | 23000 ؋ | |

**د کتابتوني څېړنې داخلي نشر:** هغه کتابتوني څېړنې چې د هیواد په داخل کې په معتبرو مجلو او یا ژورنالونو کې نشریږي، په لاندې ډول به مالي ملاتړ ترلاسه کړي:

جدول (۳/۱): د کتابتوني څېړنې داخلي نشر اړوند لګښتونه

| ګڼه | موضوع | مبلغ | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | د څېړنې د اجراء/ترسره کولو اړوند ټول لګښت | 1000 ؋ | |
| ۲ | د څېړنې نشر لپاره حداکثر فیس | 6000 ؋ | څېړونکي ته نه ورکول کیږي |
| ۳ | د څېړونکي امتیاز | 2000 ؋ | |
| د کتابتوني څېړنې داخلي نشر حداکثر جمله لګښت | | 9000 ؋ | |

**د کتابتوني څېړنې خارجي نشر:** هغه کتابتوني څېړنې چې په نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې نشریږي، په لاندې ډول به مالي ملاتړ ترلاسه کړي:

جدول (۴/۱): د کتابتوني څېړنې بهرني نشر اړوند لګښتونه

| ګڼه | موضوع | مبلغ | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | د څېړنې د اجراء/ترسره کولو اړوند ټول لګښت | 2000 ؋ | |
| ۲ | د څېړنې نشر لپاره حداکثر فیس | 8000 ؋ | څېړونکي ته نه ورکول کیږي |
| ۳ | د څېړونکي امتیاز | 6000 ؋ | |
| د کتابتوني څېړنې بهرني نشر حداکثر جمله لګښت | | 15000 ؋ | |

**دوهمه یادونه:** هر کله چې د پوهنځي استاد مقاله نشر کړي؛ مقاله باید د پوهنځي د څېړنو او پوهنتون د څېړنو عمومي کمیټې له لوري تائید شي. د امتیازاتو د تادیې په موخه د پوهنځي له لوري ریاست مقام ته وړاندیز کیږي او د څېړنو معاونیت له لوري تر تائید وروسته امتیازات د اجراء وړ دي.

**دریمه یادونه:** پورته ملاتړ د طبي علومو په برخه کې د ترسره کیدونکي څیړنې ترلاسه کوي او په ټولنیزو علومو یوازې هغه څیړنې تر پوښښ لاندې نیسي کوم چې په داسي ژورنالونو کې نشریږي د چې سکوپس، ISI او ... اینډکس وي او همدارنګه هغه ژورنالونه چې IF د محاسبې وړ او تر ۳ پورته وي.

**څلورمه یادونه:** د ټولنيزو علومو په برخه کې د پوهنتون د استادانو ترسره کیدونکي څېړنې به د څېړنې اصولو ته په پام سره د پوهنتون په ملي او نړيواله مجله پرته له کوم اضافي مصرفه کې خپريږي او پورته مالي امتيازات پرې نه مرتب کيږي.

**پنځمه یادونه:** هر استاد د خپل تدريسي مکلفيت تر څنګ مکلف ګڼل کيږي ترڅو په کلني ډول دوې مقالې( يوه ملي او يو نړيواله) نشر کړي.

**پنځمه یادونه:** د بهرنيو څېړونکو د شتون په صورت کې یوازې د نشر فيس به د څېړونکو له لوري په مساوي اندازه پرداخت کيږي.

## د مسلم پوهنتون په سطحه په پوهنځیو کې د غوره څېړونکو معلومول

د مسلم پوهنتون د علمي څېړنو معاونيت هوډ لري چې د هرې پوهنځي په سطحه غوره څېړونکی د ټاکلو معيارونو په اساس په ګوته او د شاندارو مراسمو په ترڅ کې ياد څېړونکی وستايي. له دې چاري څخه موخه د پوهنتون په کچه دفعالو څېړونکو او د دوي د ارزښتناکو فعاليتونو درناوی، علمي او څېړنيزو فعاليتونو ته د استادانو هڅول، په علمي او څېړنيزو برخو کې له نورو پوهنتونو څخه مخکښ کيدل او د پوهې په توليد او ستونزو په حل کې ګړندي ګامونه اخيستل يادولای شو. له همدې امله هره پوهنځي د څېړنو فرعي کميټې په ملتيا د لاندې معيارونو په پام کې نيولو سره يو تن غوره څېړونکي هر کال انتخابوی او د وروستيو اجراآتو په موخه يې د علمي څېړنو معاونيت ته وراپیژني:

1. د غوره څېړونکو د غوارې لپآره به يوازې هغه څېړنيز فعاليتونو په پام کې نيول کيږي چې د هر تحصيلي کال ترسره شوي وی. د دې تر څنګ د مقالو امتياز په اړوند ژورنال کې د مقالو تر قطعي چاپ څخه وروسته د محاسبې وړ دی.
2. د غوره څېړونکو څېړنيز فعاليتونه دې په چاپ شوې بڼه د علمي څېړنو معاونيت واستول شي.
3. د مسلم پوهنتون د څېړنو معاونيت به له هرې پوهنځي څخه يو تن غوره څېړونکی تقديروي. وروسته به د يادو څېړونکو له ډلې دوه تنه(يو تن له ټولنيزو علومو او يو تن له طبي علومو) د پوهنتون په کچه انتخابيږي او د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې، تاليف او ژباړې رياست ته به معرفي کيږي او همدارنګه به د پوهنتون له لوري په مادي او معنوي ډول ستايل کيږي.
4. ټول علمي او څېړنيز کارونه بايد په چاپي بڼه وارزول شي.
5. په نړيوالو نا معتبرو ژورنالونو کې خپرې شوې مقالې د اعتبار او محاسبې وړ نه دي. نامعتبر ژورنالونه هغه دي چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري نامعتبر پيژندل شوي وي.
6. کچيرته يو مقاله څو ليکولان ولري نو د غوره څېړونکي د ټاکلو په برخه کې نيمايي امتياز لومړی ليکوال ته ورکول کيږي او نيمايي نور يې پاتې ليکوالانو باندې په مساوي توګه ويشل کيږي.

**د امیتاز وړ څېړنیزو فعالیتونو ډولونه**

لاندي څېړنیزو فعالیتونه د مستنداتو له اریه کولوسره سم د پوهنتون د استادانو او څېړونکو د امتیازاتو د محاسبې او د غوره څېړونکو د غوراوي لپاره تر استفادې لاندي نیول کیږي

1. په مسلم علمي او څېړنیز ژورنال همدارنګه التطور د ټولنیزو علومو نړیوال ژورنال کې نشر شوې مقالې
2. په نړیوالو ټاپ معتبرو ژورنالونو کې نشر شوي مقالې
3. په کورنیو او بهرنیو کنفرانسونو کې اریه شوې شوې مقالې
4. په یاد کال کې نشرو شویو مقالو ته د استنادات(Citation)
5. h_ index
6. تالیف شوي کتابونه
7. ژباړل شوي کتابونه

**د کادري غړیو په وسیله نشر شوي علمي او څېړنیز آثارو به د لاندي جدول مطابق ارزیابي کیږي**

| ګڼه | معیار | د امتیاز نمره | کتنې |
|---|---|---|---|
| ۱ | التطور د ټولنیزو نړویوال ژورنال کې چاپ شوې مقالې | ۱۰ | |
| ۲ | له (IF) څخه پرته په (ISI) انډکس لرونکو مجلو کې چاپ شوې مقالې | ۸ | |
| ۳ | په (Scopus) انډکس لرونکو ژورنالونو کې چاپ شوې مقالې | ۸ | |
| ۴ | په مسلم علمي څېړنیز ملی ژورنال کې چاپ شوې مقالې | ۶ | |
| ۵ | په (ISC) انډکس لرونکو ژورنالونو کې چاپ شوې مقالې | ۳ | |
| ۶ | په ګوګل سکالر کې انډکس لرونکو ژورنالونو کې چاپ شوې مقالې( التطور) | ۲ | |
| ۷ | په کورنیو او ملي او نړیوالو معتبرو علمي کنفرانسونو کې اریه شوي مقالې | ۲ | |
| ۸ | تالیف شوي تدریسي کتابونه | ۵ | |
| ۹ | تالیف شوي غیري تدریسي کتابونه | ۵ | |
| ۱۰ | ژباړل شوي کتابونه | ۳ | |
| ۱۱ | د استناداتو شمېر | د هر استناد امتیاز یو محاسبه کیږي | |
| | **د امیتازاتو مجموعه ←** | | |

**څېړنیزې رخصتۍ او وخت ځانګړې کول**

**د څیړنې لپاره وخت:** مسلم پوهنتون د علمي کادر غړو او څېړونکو ته به د خپل کاري وخت یوه برخه په هغه صورت کې څېړنیزو فعالیتونو لپاره ځانګړې کوي، چې تدریسي او اړین اداری مکلفیت یې کم وي.

**د څېړنيزو رخصتيو غوښتنه:** مسلم پوهنتون د علمي کادر غړي او څېړونکي کولای شي د څېړنو ترسره کولو په موخه څېړنيزو رخصتيو غوښتنه وکړي، د نورو درسي او اداری مکلفيتونو د عدم جديت او اداري لزوم ديد سره به ورته رخصت ورکول کيږی.

**د څيړنو هڅونه او د همکاريو رامنځته کول**

د مسلم پوهنتون اداره مکلفه ده ټولو هغو څېړنو ته چې د ياد نهاد له لوري ترسره او نشر کيږی د مختلفو اداراتو سره د څېړنو پر برخه کې همکاری زمينه برابره کړي او په ياده برخه کې مالي او اداري ملاتړ جذب کړي.
مسلم پوهنتون به هر کال غوره څېړنې او څېړونکي ستايي او په مختلف ډول جايزو به يې نازوي.

د څيړونکو د ملاتړ او علمي څيړنو پاليسي د څيړنو کميټې ( / / ) نيټې ( ) گڼه پروتوکول کې تائيد شوې ده.